د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالی او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

اونیز
عودت راستنیدنه
هفته نامه

(۷۲)گڼه وږی ۱۴۰۴: شماره (۷۲) سنبله ۱۴۰۴ :صفحه اول:لومړی مخ




## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په کابل کې د جاپان له سفیر ښاغلي تاکایوشي کورومایا سره د مخه ښې لیدنه وکړه

ښاغلي تاکایوشي کورومایا د خپل ماموریت پر مهال د اسلامي امارت او د راستنېدونکو چارو د وزیر لخوا د ورسره شویو همکاریو او لیدنو له امله مننه وکړه.
ښاغلي کورومایا په افغانستان کې د سولې او ثبات ستاینه وکړه او زیاته یې کړه، چې د رسمي معلوماتو پر بنسټ د افغانستان اقتصاد د ودې په حال کې دی او تمه ده چې لاپرمختګ وکړي.
نوموړي د کابل او توکیو اوږدو اړیکو ته په اشارې سره وویل، چې جاپان په تېرو څلورو کلونو کې په میلیونونه ډالرو بشري مرستې افغانانو ته رسولې دي او همدارنګه د ژمې له رارسیدو وړاندې به د اړمنو افغانانو لاس نیوی وشي.
د جاپان سفیر د مخدره توکو، اداري فساد او مفسدو ډلو پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزه اغېزمنه وبلله او زیاته یې کړه، چې نړۍ او اسلامي امارت باید په ګډه د اوسني افغان حکومت رسمیت پیژندنې ته کار وکړي.
نوموړي د خبرو په پای کې یادونه وکړه، چې د جاپان حکومت به په افغانستان کې یو شمېر ټولګټې پروژې پر مخ یوسي.
محترم مولوي عبدالکبیر د جاپان سفیر او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست وویل او په کابل کې یې د ښاغلي تاکایوشي کورومایا ماموریت بریالی یاد کړ او همدارنګه له افغانانو سره د جاپان د حکومت له مرستو یې مننه وکړه.
محترم وزیر څرګنده کړه، چې اسلامي امارت ته ګڼې ننګونې په میراث وړپاتې دي خو بیا هم افغان حکومت توانیدلی چې خپلې چارې په اغېزمن ډول ترسره کړي.
د محترم مولوي عبدالکبیر په وینا چې اسلامي امارت له نړۍ سره د مثبتو اړیکو غوښتونکی دی او اسلامي نظام په تېرو څلورو کلونو کې خپلې ژمنې عملي کړې دي.



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د یوناما له مشرې اغلې روزا اوتنبایوا سره د مخې ښې لیدنه وکړه

د ناستې په پیل کې اغلې روزا اوتنبایوا په وروستۍ زلزلې کې د زیانمنو شویو په اړه خپله خواشیني له محترم وزیر سره شریکه کړه او زیاته یې کړه، چې ملګري ملتونه له اړمنو افغانانو سره خپلو مرستو ته دوام ورکوي.
آغلې اوتنبایوا د خپل ماموریت پر مهال د اسلامي امارت لخوا د ورسره شوې همکارۍ له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې په افغانستان کې د اسلامي امارت د هڅو په اړه نړیوال قانع شوي دي.
د نوموړې په وینا، که روانې هڅې دوام ولري افغانستان به د سویلي او منځنۍ اسیا یو فعال هېواد وګرځي.
آغلې اوتنبایوا د اسلامي امارت په تېره څلور کلنه دوره کې د ستونزو سربېره د طبعي پیښو او د کډوالو د لړۍ مدیریت وستایه او زیاته یې کړه، چې د افغانستان په تړاو به کره معلومات له نړیوالو سره شریک کړي.
د ناستې پر دوام د یوناما مشرې له افغانانو سره پر بشري مرستو ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، چې د ملګرو ملتونو ۲۵ ډلې زلزله ځپلو سیمو ته رسیدلې دي او د حالت له ارزولو وروسته به مرستې پیل کړي.
هغې د خپلو خبرو په پای کې وویل، چې ملګري ملتونه د کډوالۍ د دایمي حل په موخه د افغانستان په شمال کې له کډوالو چارو وزارت سره په همغږۍ د ۲۳ میلیونو ډالرو په ارزښت پروژه پلي کوي او دویم پړاو به یې په نیمروز او فراه ولایتونو کې پلي شي.
محترم مولوي عبدالکبیر د یوناما مشرې او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست وویل او د اسلامي امارت د حکومت په دویمه دوره کې یې د نوموړې د هڅو او خدمتونو ستاینه وکړه.
محترم وزیر زیاته کړه، چې ملګرو ملتونو په افغانستان کې د اغلې روزا اوتنبایوا د ماموریت پر مهال یو شمېر مهم کارونه ترسره کړي او تمه ده چې لامثبت ګامونه واخیستل شي.
محترم مولوي عبدالکبیر څرګنده کړه، چې اسلامي امارت زلزله ځپلو ته د مرستې رسولو په موخه یوې کمیټې ته دنده سپارلې ده او نړیوال بنسټونه دې خپلې مرستې له حکومت سره په همغږۍ وویشي.
د محترم وزیر په وینا، چې د کډوالو چارو وزارت د کډوالۍ د انګیزې ختمولو په موخه ستراتیژي چمتو کړې او له تخنیکي ارزونې وروسته به بشپړه شي.
د ناستې په پای کې محترم وزیر د یوناما له چارو ملاتړ وکړ او زیاته یې کړه، چې د کډوالو چارو وزارت د ملګرو ملتونو له ادارو سره همکارۍ ته دوام ورکوي.



## وزیر امور مهاجرین، با چند تن از علما و استادان پوهنتون، دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان، با چند تن از علما و استادان پوهنتون دیدار کرد.
اساتید پوهنتون و علمای حاضر، از خدمات ارائه شده توسط امارت اسلامی به هموطنان بازگشته و آسیب دیده از زلزله تقدیر کرده و گفتند: مردم افغانستان با کمک به نیازمندان، وحدت و همکاری خود را با دولت ثابت کرده اند.
آنان پیشنهادات خود را برای توسعه فرهنگی جامعه،حل برخی مشکلات، شکایات در مورد وضعیت بازگشت‌کنندگان در مرز ولایت نیمروز با کشور ایران و موانع و مشکلاتی که مهاجرین هنگام ورود با آن مواجه هستند با محترم وزیر امور مهاجرین در میان گذاشتند.
محترم مولوی عبدالکبیر از علما و اساتید پوهنتون استقبال و از تلاش های آنها در زمینه های علمی و اصلاحی تقدیر نموده افزود: حمایت از عودت کنندگان و افغان های نیازمند، بخشی مهم از امور امارت اسلامی است و خوشبختانه نظام اسلامی با حمایت مردم توانسته است خدمات مناسبی را به زلزله زدگان و عودت کنندگان ارائه دهد.
محترم مولوی عبدالکبیر پیشنهادات آنان را مهم خوانده و خاطرنشان کرد که نظام اسلامی نیازمند مشورت علما و مردم است.



## وزیر امور مهاجرین با نمایندگان مهاجرین ولسوالی سروبی ولایت کابل دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان، با نمایندگان مهاجرین ولسوالی سروبی ولایت کابل دیدار کرد.
در این دیدار، نمایندگان مهاجرین از خدمات ارائه شده توسط امارت اسلامی به عودت کنندگان ابراز رضایت کرده افزودند: استقبال و حمایت امارت اسلامی از مهاجرین، افغان مقیم کشور های همسایه را به بازگشت داوطلبانه تشویق کرده است.
به گفته آنان، صد ها خانواده از ولسوالی سروبی قصد بازگشت از پاکستان به کشور را دارند و به صورت دسته جمعی بازخواهند گشت.
نمایندگان مهاجرین طی ارائه های خود از امارت اسلامی درخواست کردند که برای صدها خانواده مهاجر که در ولسوالی سروبی می‌آیند، شهرکی در نظر گرفته شود و برای اقامت کوتاه مدت به آنها کمک شود.
محترم مولوی عبدالکبیر از بزرگان و علمای مهمان استقبال کرده افزود: امارت اسلامی برای خدمت رسانی بهتر به مهاجرین، وظایفی را به بسیاری از نهاد های دولتی واگذار کرده است و هر وظیفه‌ای به موقع انجام می‌شود.
محترم وزیر مهاجرین توضیح داد: امارت اسلامی در هر ولایت، شهرک‌هایی را برای مهاجرین تصویب کرده است و در صورت لزوم، زمین بیشتری برای شهرک‌های مهاجرین اختصاص داده خواهد شد.
محترم مولوی عبدالکبیر به نمایندگان

مهاجرین ولسوالی سروبی اطمینان داد که امارت اسلامی امکانات لازم را برای اسکان کوتاه مدت مهاجرین دارد و اکنون حکومت در بخش مهاجرین با کمبود بودجه مواجه نشده است. محترم وزیر امورمهاجرین همچنین به بزرگان بازدید کننده توضیح داد که پیشنهاد شهرک با ادارات مربوطه در میان گذاشته خواهد شد و امارت اسلامی تا حد امکان با آن رسیده گی خواهد نمود.



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د کور او بهر جوړولو وزارت د معین ښاغلي شیخ مدار علي کریمي بامیاني په مشرۍ د اهل تشیع له څو تنو علمای کرامو او قومي مخورو سره وکتل

راغلو علماوو او مخورو د اسلامي امارت لخوا د ورسره شوې همکارۍ له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې پر وخت د راستنېدونکو او زلزله ځپلو لاس نیوی د ولس د خوښۍ سبب شوی دی. حاضرو قومي مخورو او علمای کرامو د اختلافاتو په حل کې د اسلامي امارت له پالیسۍ هر کلی وکړ او حکومت ته یې د خپلو وړاندېزونو په لړ کې، راستنو شوو ته د یوه ځانګړي ښارګوټي غوښتنه وکړه. محترم مولوي عبدالکبیر راغلو مشرانو او علماوو ته ښه راغلاست وویل او له اسلامي نظام سره د اهل تشیع و ګړو همکاري یې وستایله. محترم وزیر وویل، چې اسلامي امارت د ټولنې اړتیاوو ته پام لري او د راستنېدونکو په ګډون د ټولو اړمنو غوښتنو ته به رسیدنه وشي. محترم مولوي عبدالکبیر شوبو وړاندېزونو ته په اشارې سره وویل، چې د حل په موخه به یې اقدام وشي او اړوندې ادارې به همغږې کړي.



## تفاهم نامه همکاری به ارزش نزدیک به دو میلون دالر، در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

یک تفاهم نامه همکاری به ارزش یک میلیون ۹۷۷ هزار و ۷۵ دالر امریکایی با موسسه حمایت پایدار در افغانستان در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.
به اساس تفاهم نامه عقد شده موسسه مذکور مبلغ متذکره را در بخش ایجاد مراکز حمایتی، مهارت های کسب و کار و ارایه خدمات روانی اجتماعی در ولایات هرات و بادغیس به مصرف میرساند که ۷۳۰ تن برگشت کننده از آن مستفید خواهد شد.



## د پاکستان په خیبر پښتونخواه، تورخم او لنډي کوتل او د اسلام‌اباد په ښار کې د افغان کډوالو له وضعیت څخه لیدنه وشوه

د افغانستان د اسلامي امارت د لارښوونو پر بنسټ، د خیبر پښتونخواه ولایت په تورخم او لنډي کوتل سیمو کې د افغان کډوالو له وضعیت څخه لیدنه ترسره شوه. قاري نیازمحمد عارف، د کډوالو اتشه، د وږي په ۱۳مه نېټه د یوه پلاوي په مشرۍ یادو سیمو ته سفر وکړ او د ستنېدونکو کډوالو حالت یې وڅېړه. نوموړي د کډوالو ستونزې د پاکستاني اړخ له مسوولینو سره شریکې کړې، او د خیبر د مرستو کمېشنر نسیم علي شاه د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.

همدارنګه، د اسلام‌اباد ښار د کډوالو د اتشې مرستیال مولوي ارسلان خان حقیار، د وږي په ۱۱مه نېټه د راولپنډۍ ښار د کډوالو له مېشت ځایونو څخه لیدنه وکړه. نوموړي د کډوالو غوښتنې او ستونزې واورېدې، اړینې قانوني لارښوونې یې وړاندې کړې، او د داوطلبانه ستنېدنې په اړه یې د اسلامي امارت د تګلارې او د کډوالو چارو وزارت د میکانیزمونو او اسانتیاوو وضاحت وکړ. مولوي حقیار د اسلام‌اباد د کډوالو د موقتي ساتنې له مرکز څخه هم لیدنه وکړه او له مسؤلینو سره یې د هغو کورنیو د غړو د خوشې کېدو په اړه، چې تر نیول کېدو وروسته یاد مرکز ته لېږدول شوي وو، اړینې سپارښتنې وکړې.



## نزدیک به ۲۰۰ تن مهاجر پس از رهایی از زندان های پاکستان، به کشور برگشت نمودند

۱۸۲ تن از افغان های مهاجر محبوس در کشور پاکستان از حبس آزاد و درهفته جاری، به کشور برگشت نمودند. به اساس معلومات آمریت انتقالات مهاجرین سپین بولدک ولایت قندهار افراد یاد شده دربخش های مختلف کشورپاکستان بازداشت شده بودند و مدت یک الی ۷ روز را دربند بودند. افراد مذکور بعد از ثبت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.

## په تېره یوه اونۍ کې د هېواد په ۱۰ ولایتونو کې تر زرو زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې

د وږي میاشتې په تېره یوه اونۍ کې د کابل، کندز، بدخشان، تخار، سمنګان، ارزګان، جوزجان، نیمروز، ننګرهار او کاپیسا ولایتونو کې ۱۳۴۲ بې ځایه شویو، راستنېدونکو او اړمنو کورنیو سره نغدي، خوراکي او غیر خوراکي مرستې شوې دي. د یادو مرستو له ډلې په کندز کې ۲۰۰ کورنیو ته ۲۵۱ زره او ۲۰۰ افغانۍ، په کابل کې ۴۵۹ کورنیو ته ۳ میلیون ۷۵ زره و ۴۰۰ افغانۍ او ۷ قلمه خوراکي توکي، په بدخشان کې ۱۸ کورنیو ته ۶۸۵ زره او ۸۰۰ افغانۍ، په تخار کې ۸۶ کورنیو ته ۳۱۱ زره او ۴۰۰ افغانۍ، په سمنګان کې ۲۵۳ کورنیو ته ۵۸ زره او ۸۰۰ افغانۍ او ۲ قلمه خوراکي مواد، په جوزجان کې ٦۳ کورنیو ته ۳ میلیون ٦۳۲ زره و ۷۷۲ افغانۍ او یوه باب خېمه، په نیمروز کې ۱۷۴ کورنیو ته ۷۴۳ زره او ۸۰۰ افغانۍ، په ارزګان کې ۷۸ کورنیو ته ۱۳۱ زره او ٦۰۰ افغانۍ، په ننګرهار کې ۹ کورنیو ته ۹۹ زر افغانۍ، په کاپیسا کې ۲ کورنیو ته ۴۰ زره افغانۍ د دې وزارت د همکارو بنسټونو له لوري د سروې او پېژندنې وروسته ویشل شوې.

